مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ درېیمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲٤مه | ٤٦٧مه گڼه

# د لومړنیو پایلو د اعلان ځنډېدل؛

## وکیلان: کمېسیون دا وړتیا نه لري چې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې اعلان کړي



۳

پوهنتون
۴ مخ

## طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسه

د لوړو زده کړو یاده موسسه په کور د ننه سربېره، په هند کې د LPU له پوهنتون سره هوکړه لري، چې له مخې یې د دوی محصلین کولی شي په ځانگړي تخفیف سره په دغه پوهنتون کې د ماسترۍ او دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې وکړي.




## افغان سفیر: د چابهار بندر له لارې د ټرانزیټ زیاتوالي پلان لرو



په تهران کې د افغانستان سفیر عبدالغفور لېوال وایي چې هېواد یې د چابهار بندر له لارې د سوداگریزو توکو د ټرانزیټ زیاتولو پلان لري. لېوال رسنیو ته ویلي چې د چابهار بندر دواړې برخې د سوداگریزو توکو د لېږد رالېږد لپاره تیارې شوې دي. د مسوولینو په خبره، دا بندر کولی شي چې هر کال شاوخوا یو میلیون ټنه سوداگریز مالونه انتقال کړي. دوی وایي، ممکن په دې برخه کې ځینې وړې ستونزې وي، خو له چارواکو سره د خبرو له لارې حل کېدلی شي.
د ایران د خبري اژانس اېرنا په حواله، د افغانستان لږ تر لږه ۱۷٦ سوداگریز شرکتونه د چابهار په بندر کې د تجارت لپاره ثبت شوي دي، خو یوازې ۳۲ یې اوسمهال فعالیت کوي.
افغان حکومت رسماً په فبرورۍ میاشت کې د چابهار بندر له لارې هند ته د خپلو سوداگریزو مالونو په لېږدولو پیل وکړ.
د چابهار بندر د فعالولو هدف د منځنۍ اسیا له هغو هېوادونو سره سوداگریزه مرسته ده، چې په وچه کې پراته دي.

په دوحه کې د خبرو بیا پیل، لاملونه او پایله
۲ مخ

د افغان سولې نوی بهیر؛ هیلې او خنډونه
۲ مخ

د اوبو ناعادلانه وېش یوه نړیواله ستونزه ده، د حل لپاره یې باید څه وکړو؟
۳ مخ

## سرچینې: په دوحه کې د زلمي خلیلزاد او طالب پلاوي تر منځ بیا خبرې پیل شوې دي

د طالبانو او زلمي خلیلزاد تر منځ د نهو پړاوونو مذاکراتو تر لغوه کېدو وروسته، تازه په قطر کې د طالب مرکچیانو او زلمي خلیلزاد په مشرۍ د امریکایي پلاوي تر منځ بیا خبرې پیل شوې دي.
یوې سرچینې کابل نیوز ته ویلي، چې زلمی خلیلزاد له طالبانو سره پر خبرو بوخت دی او ښایي د اعتماد فضا له رامنځ ته کېدو سره سم د دواړو خواوو تر منځ د توافقنامې لاسلیک کېدو ته زمینه مساعده شي. سرچینې زیاته کړې: «زلمی خلیلزاد دمگړۍ په دوحه کې دی. امریکایي پلاوی او طالب مرکچیان د اعتماد فضا پر رامنځ ته کولو او سولې مذاکراتو خبرې کوي».
په ورته وخت کې پخواني طالب چارواکي وایي، د طالبانو او امریکا تر منځ د بندیانو تبادله او د سولې په برخه کې د دواړو لوریو یو لړ اقدامات د دغو مذاکراتو د بیا پیل کېدو سبب شوي دي.
طالبانو ته نږدې کسان وایي، دا مهال په دوحه کې د زلمي خلیلزاد او طالبانو تر منځ مذاکرات د اعتماد فضا پر رامنځ ته کولو او هغو مواردو متمرکز دي، چې د دغو خبرو اترو د لغو کېدو سبب شول. پخواني طالب چارواکي مولانا جلال الدین شینواري ویلي: «همدا اوس په دوحه کې مذاکرات روان دي او دا د افغان ولس او ملت ته یو ښه زېری دی».
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د جمعې په ورځ له فاکس نیوز سره په مرکه کې وویل، چې دوی له طالبانو سره ترون کوي او غواړي خپل ځواکونه له افغانستانه وباسي. ټرمپ ویلي چې دوی دا مهال له طالبانو سره پر یوې هوکړې کار کوي.

## د افغان ځواکونو په لیکو کې د داخلي بریدونو کچه دوه برابره لوړه شوې ده

۲ مخ

## وزارت مالیه: مصارف از کُد ۹۱ مطابق اهداف این کُد نبوده‌است



پس از نشر گزارش‌ها دربارۀ سه برابرشدن وجوۀ پولی در کُد ۹۱ و ۹۲، و اجرای مصارف گوناگون از این کُدها در سال گذشته، ذاهد همدرد معین وزارت مالیه می‌پذیرد که در سال گذشته مصارف از کُد ۹۱ مطابق به اهداف این کُد نبوده‌است.
آقای همدرد در یک گفت‌وگو با طلوع‌نیوز گفته است که از این کُد در بخش امنیتی، پرداخت حقوق، بازسازی بازمانده‌های باستانی و خرید زمین در کشور مصرف شده‌است که در اهداف این کُد نیست.
هزینه کردن پول‌های کُد ۹۱ از صلاحیت‌های رئیس‌جمهور (۷۰ درصد) و رئیس‌اجرایی (۳۰ درصد) است.
همدرد در این باره گفته است: «بدبختانه از این بودجه‌ها در بخش تقویت اداره‌های دولتی استفاده شده‌است؛ هرچند این مصارف مشروع استند، اما بربنیاد اهداف کُد نبوده‌اند».
بربنیاد سندهایی که از کمیسیون مالی و بودجۀ ولس جرگه به رسانه ها رسیده‌اند، نشان می‌دهند که در سال گذشته، اضافه از تخصیص یک میلیارد و ۳۰۰ میلیون افغانی، بیش از یک میلیارد و ۷۰۰ میلیون دیگر در کُد ۹۱ ریخته شده‌است.
و همین‌طور، در کُد ۹۲، اضافه از تخصیص یک میلیارد و ۵۰۰ میلیون افغانی، بیش از دوصد میلیون افغانی دیگر بدون تأیید ولس جرگه به این کُد افزوده شده‌است.
مهدی راسخ، عضو این جرگه در این باره گفته است: «استفاده از کُدها... بسیار زیاد بوده‌است و به همین علت است که مجلس دو روز می‌شود تنها روی قطعیه کار می‌کند، اما دیده می‌شود که در مصارف بسیار خلاف ورزی‌ها صورت گرفته‌است».

Shigal English Academy
شیگل انگلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## درېـځ

# په دوحه کې د خبرو بیا پیل، لاملونه او پایله

د دریو طالبانو په بدل کې د امریکایي پوهنتون د استادانو خوشې کولو امریکا او په ځانګړي ډول ټرمپ ته دا زمینه برابره کړه، چې له طالبانو سره د خبرو بیا پیل ته پلمه جوړه کړي. که څه هم خبرې په رسمي ډول نه دي پیل شوې، خو نارسمي خبرې پیل شوې دي. د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد په قطر کې دی او د سولې د خبرو د بیا پیل لپاره پر چوکاټ، د خبرو د بیا پیل پر څرنګوالي، پخوانیو توافقاتو د امریکا پر نوو غوښتنو او شرطونو له طالبانو سره خبرې کوي. معلومه نه ده چې رسمي خبرې به کله پیلېږي، خو اټکل دی چې که طالبان د امریکا ځینې غوښتنې ومني، ژر به دا خبرې پیل شي.

وروستي بدلونونه ښیي چې امریکا د خپلې اړتیا پر اساس له طالبانو سره د سولې خبرو ته بیا را ګرځي. د امریکایي پوهنتون له استادانو سره د انس حقاني تبادله له پخوا د طالبانو غوښتنه وه، خو امریکا نه منله. اوس امریکا ومنله او داسې یې وښودله چې ګواکې طالبان بدل شوي او د دوی غوښتنې مني. دا په واضح ډول د امریکا له خوا د سولې خبرو د بیا پیل لپاره د یوې پلمې جوړول دي. امریکا پر طالبانو د خپلو غوښتنو د منلو او په امریکا کې دننه د ځینو اړتیاوو پر اساس خبرې پرېکړې او له طالبانو سره یې هوکړه لاسلیک نه کړه. امریکا هڅه وکړه په دې موده کې پر طالبانو فشار راولي او خپلې غوښتنې پرې ومني. داسې نه ښکاري چې امریکا به په دې هڅه کې بریالۍ شوې وي. اوس چې یو ځل بیا خلیلزاد قطر ته ورغلی، هڅه به وکړي چې طالبان د ځینو داسې غوښتنو منلو ته اړ کړي، چې د امریکایي ګټو له خوندیتوب سره مرسته وکړي.

دا چې دا ځل به امریکا بریالۍ شي او که نه، چې خپلو غوښتنو ته ورسېږي، وروسته به معلومه شي، خو څه چې روښانه دي، هغه دا دي چې له طالبانو سره خبرې بیا پیلېږي او دا کار ژر کېدونکی دی. له طالبانو سره سیاسي جوړ جاړی او په افغانستان کې بدلون د امریکا مهمه اړتیا ده. د دریو دلایلو پر اساس دا امریکایي اړتیا ده. لومړی دا چې د افغانستان جګړه د امریکا د تاریخ تر ټولو اوږده جګړه ده او امریکا غواړي دا جګړه بدله او یا هم داسې ختمه کړي چې خپلې ګټې خوندي کړي. له همدې امله د سیاسي جوړجاړي هڅې کوي او غواړي د سولې له لارې خپلې ګټې خوندي کړي. دویم دا چې په امریکا کې د ولسمشرۍ ټاکنې را رواني دي. له دې امله چې امریکایي عامه ذهنیت د افغان جګړې خلاف دی، نو ټرمپ غواړي د خپلې بریا لپاره په افغانستان کې یو بدلون راولي او سیاسي معامله وکړي. درېیم دا چې د افغانستان جګړه، د طالبانو قوت او سیمه ییزې اړیکې د امریکا لپاره پر یو جدي ګواښ بدلې شوې دي. دا ګواښ ورځ تر بلې زیاتېږي او امریکا ته لوی سرخوږی جوړولی شي. له همدې امله امریکا غواړي د دغه ګواښ مخه ونیسي او له طالبانو سره د سیاسي جوړجاړي له لارې ستونزه حل کړي. د همدغو دلایلو پر اساس له طالبانو سره خبرې بیا پیلېږي او ژر به دا خبرې پایله هم ولري.

# د افغان سولې نوی بهیر؛ هیلې او خنډونه

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د امریکایي ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خوا د سولې د خبرو اترو له لغوه کېدو وروسته، چې یوازې ډاکټر غني ترې ملاتړ وکړ، نور په کور دننه، نړیوالو او سیمه ییزه کچه پراخ غبرګونونه راوپارول.

مونږ هغه مهال هم پر دې ټینګار کاوه او باوري وو چې امریکایان یې په جګړه نه شي ګټلی؛ دا ځکه کله چې د هوچېمین په مشرۍ ویتنامي کمونېستانو د روسانو او چینایانو ملاتړ خپل کړی و، خو له امریکا سره یې ځواک د مقایسې وړ نه و، هغه څه چې د امریکایانو ملا یې ورماتوله، هغه د امریکا برید اشغال بلل کېدل وو.

د افغان ـ امریکا په اوږده جګړه کې چې امریکایان یې د خپل تاریخ تر ټولو اوږد او سترې کوونکې ټکر بولي، اوس نه یوازې د اشغال ښکاره بڼه خپله کړې، بلکې د ۲۰۱۴ ز کال له ناندریو او شرم ډکه ټاکنیزه ننداره او په پایله کې یې د افغان ملت د ارادې پر خلاف د یوه دو سره، بلواکه او کاواکه حکومت اعلان هغه هم د امریکا په سفارت کې او بیا د همدغه بدنام حکومت له لوري د داسې فجایعوو او وحشتونو رامنځ ته کېدل، چې د یعقوب خان مخ یې ومینځو، شاه شجاع یې ښاغلی او د سقاو، امین، کارمل او نجیب په څېر بدنامانو ته یې اخلاقي برائت ورکړ، دا هرڅه د امریکایي ماموریت پر ریښه د تبر وهل وو.

خو د ۲۰۱۹ ز کال ټاکنې چې متفکر غني د غازي امان الله خان د ناتمام فصل بشپړول او د جمهوریت حجت بلل د ولس له لوري پرېکون او نه ګڼون چې غني د ولس پر لومړیتوب(سولې او امن) مخکې والی ورکړ، امریکا ته یې دا څرګنده کړه چې نور په یوه بایللې قمار لالچ او ټینګار کول به دوی د شوروي اتحاد پر شرموونکي برخلیک اخته کړي.

په هر صورت، اوس چې د طالب او امریکایي بندیانو تبادلې د امریکا او طالبانو تر منځ د یوې هوکړې په برخه کې هغه پرې شوی اعتماد یو ځل بیا د طالبانو د عاقلانه دریځونو او د زلمي خلیلزاد د هڅو په پایله کې رغول شوی، اوس د ټرمپ له تازه څرګندونو داسې ښکاري چې ټرمپ د بیا خبرو پیل ته هسې یوه پلمه لټوله او دا چې نومړی وایي چې مذاکره کوونکی پلاوی یې له طالبانو سره د یوې هوکړې لپاره همدا اوسمهال پر خبرو بوخت دی، چې په عیني وخت کې یې ډاکټر غني هم کمپ ډیویډ ته احضار کړی، ښیې چې ټرمپ نور دې پرېکړې ته رسېدلی چې خپل عسکر خپل کور ته ور وګرځوي.

پر همدې بنسټ د سولې په نوي پړاو کې څو ټکي ډېر مهم دي، چې د دې بهیر په لړ کې هیلې او خنډونه زېږولی شي.

لومړی: ټرمپ د خپلو تازه څرګندونو په لړ کې له فاکس نیوز ټلویزیوني شبکې سره زیاته کړې چې دوی له طالبانو سره پر یوه هوکړه کار کړی، هغه چې د نومړې په خبره په افغانستان کې به سوله راولي او دوی به ډېر ژر خپل عسکر له افغانستانه وباسي.

دا په دې مانا چې امریکا نور دې سوچ ته رسېدلې چې په افغانستان کې یې شتون په ګټه نه دی، له نظامي لارو بریا ته نه شي رسېدلای او د غني وربلل هم تر یوې هوکړې وړاندې په حقیقت کې د زلمي خلیلزاد په غوښتنه د سولې تر هوکړې مخکې د غني غوړونو تاوول او پر دې پوهول دي چې که له طالبانو سره د هوکړې خنډ شې؛ نو امریکا چمتو ده چې په یو هر اړخیزه توګه خپل عسکر وباسي او دوی تنها پرېږدي.

ځکه د ټرمپ تر اعلان یوه اونۍ وړاندې د خلیلزاد په مشرۍ د امریکا مذاکره کوونکی پلاوی په قطر کې مېشت و او داسې ګنګوسې هم شته چې خبرې پای ته رسېدلې او یوازې د غني امریکا ته تر تګ پورې پاتې وې.

دویم: د افغان سولې په برخه کې د سیمې د هېوادونو ډېره لېوالتیا د دې بهیر بله هغه هیله ښوونکې برخه ده چې د افغان حکومت د ماتې او پر امریکا دې فشار تله یې درنه کړې ده. د بېلګې په توګه، کله چې ټرمپ له طالبانو سره خبرې لغوه کړې، د سیمې مهمو هېوادونو روسیې، چین، ایران او نورو هېوادونو له خوا پر هغو منفي غبرګونونه ښکاره شول. له دې داسې ښکاري چې دغه هېوادونه د سولې په پروسه کې تر پخوا زیات ښکېل دي، کوم چې د روسیې په محور کنفرانسونه او داخل په چین کې د یوې بین الافغاني ناستې تابیا د دې علاقې جدي ښودنه کړې، بل لور ته د دغو هېوادونو فشار تر ډېره د افغان حکومت د خپلسریو او د واشنګټن د یکه تازي او انحصار واک مات او د سولې د روان بهیر د شلېدو امکان هم لږ کړی دی.

درېیم: د افغان ـ امریکا جګړې په برخه کې تر څه کم دوو لسیزو وروسته، یو بل ښه پرمختګ چې اړتیا یې لیدل کېده، د سولې له داعیې د مطرحو سیاستوالو او عام ولس په یو غږ د ملاتړ تشه وه.

مګر د ۱۳۹۸ لمریز کال له ټاکنو سره د ولس بې سارې پرېکون او بل خوا د غني او ارګبګیانو د هڅو پرخلاف د افغان سیاستوالو له لوري چې پخوانی ولسمشر حامد کرزی، د شمال ټلواله او بې پرې مخور یې ښه بېلګه ده، د حکومت د استبدادي او سوله دښمن محوریت پر خلاف دربدل او د حکومت له قرائت سره په تقابل کې د سیاستوالو دې درک ته رسېدل چې د بهرنیانو شتون د روانې جګړې او افغان وژنې یو له اصلي عواملو څخه دی، دا د دې ښودنه کوي چې نور د سولې راتګ او د بهرنیانو وتل یوازې د طالب د حیثیت داعیې نه؛ بلکې یوه پراخه ولسي غوښتنه ده چې که هر څوک یې پر وړاندې ودرېږي، ماتېږي به او د خدای او تاریخ پر وړاندې به ذلیل او محکوم وي.

څلورم: د امریکا او طالبانو تر منځ د خبرو پر وړاندې مهم خنډونه د ۱۳۹۸ لمریز کال ولسمشریزې ټاکنې، د داعش د پروژې د بیا بیا ختمېدو له اعلان سربېره، د هغوی ژوندي ساتل کېدل، د امریکا بې ثباته او متضاد دریځونه او په ټوله کې د غني پر ورانکاره او سوله دښمن دریځ د لازمو فشارونو نه راوستل، هغه موضوعات دي چې باید امریکایان یې په عمل کې د سولې د یوې هوکړې له لارې پای ته ورسوي.

همدارنګه طالبانو ته هم پکار ده چې د پخوانیو کمزوریو او ابهامونو د تکرار مخه ونیسي، د سولې په جریان کې واړه مسایل باید د دې سبب نه شي چې د یوه ملت برخلیک ټاکونکي لومړیتوبونو ته پکې زیان ورسېږي. دوی باید د افغان ژغورنې دغه نیمګړی فصل په خپل تدبیر سره ثمر ته ورسوي او په دې برخه کې له موجوده سیمه ییز لیدلوري، کورنی ذهنیت او نړیوال دریځ څخه په حکمت او هوښیارۍ ګټه پورته کړي، څو د افغانانو د سپېڅلو هیلو او بې سارې سرښندنو رښتینی درناوی شوی وي.

## کډوالو چارو وزارت: په تېرو پنځو کلونو کې نږدې څلور میلیونه کډوال بېرته هېواد ته راستانه شوي دي



د کډوالو چارو وزارت چارواکو ویلي چې په تېرو پنځو کلونو کې له بهرنیو هېوادونو څخه هېواد ته شاوخوا څلور میلیونه کډوال راستانه شوي دي.

د کډوالو چارو وزارت د بیا راستنېدونکو ځانګې مشر رحمت الله حکیمي په مزارشریف ښار کې پر داخلي بېځایه شویو او راستنېدونکو کډوالو باندې د څمکو د وېشلو په مقدماتي پروګرام کې ویلي، چې یاد وزارت دمګړۍ په دې تړاو د ولسمشرۍ ماڼۍ د ۳۰۵ نمبر فرمان پر عملي کېدو بوخت دی.

هغه زیاته کړې، د یاد فرمان له مخې، پر مستحقو داخلي بېځایه شویو، راستنو شویو کډوالو او په امنیتي لیکو کې د وژل شویو سرتېرو پر وارثینو ځمکې وېشل کېږي.

نومړي دغه راز ویلي، اوسمهال پر داخلي بېځایه شویو او بېرته راستنو شویو کډوالو باندې د ځمکو د وېشلو سروې او مقدماتي چارې پیل شوې، چې ډېر ژر به یې د وېش چارې هم پیل شي.

د حکیمي په خبره، د ولسمشر په فرمان کې ټول هغه موارد ذکر شوي، چې له مخې به یې هغو کورنیو ته لومړیتوب ورکول کېږي چې مرستو ته ډېره اړتیا لري.

هغه ویلي، په روان لمریز کال کې په ټول افغانستان کې د نا امنیو او طبیعي پېښو له امله شاوخوا پنځه سوه زره کورنۍ د هېواد دننه بېځایه شوې دي، چې په خبره یې له ځینو سره یې مرستې هم شوې دي .

نومړي زیاته کړې چې په تېرو پنځو کلونو کې شاوخوا څلور میلیونه کډوال له مختلفو هېوادونو څخه بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي.

د کډوالو چارو وزارت د بیا راستنېدونکو ځانګې مشر دغه راز زیاته کړې، چې د راستنو شویو کډوالو او داخلي بېځایه شویو لویه ستونزه د استوګنې کورونو او کار نشتون دی.

د هغه په خبره، د کډوالو چارو وزارت داسې یوه طرحه هم تر لاس لاندې لري، چې له مخې یې ټول مهاجرتونه منظم شي او د غیرقانوني کډوالۍ مخه ونیول شي.

د ده په خبره، په ټول افغانستان کې ٦۲ ښارګوټي د داخلي بېځایه شویو او راستنو شویو کډوالو لپاره ځانګړي شوي؛ خو زیاتوي چې ځینې دغه ښارګوټي د سیمه ییزو زورواکو له خوا غصب شوي دي.

## د بشري حقونو کمېسیون: روان کال په هېواد کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۲۸۰۰ پېښې ثبت شوې

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویلي چې په افغانستان کې روان کال د تېر په پرتله د ښځو د تاوتریخوالي پېښې نهه سلنه ډېرې شوې او سږ کال د ثبت شویو دا ډول پېښو شمېر نږدې ۲۸۰۰ ته رسېدلی دی.

یاد کمېسیون تېره ورځ په کابل کې د ښځو د تاوتریخوالي د نړیوالي ورځې په نمانځغونډه کې د «په افغانستان کې له ښځو سره د تاوتریخوالي» په نوم خپل اووه میاشتنی راپور خپور کړ.

د یاد کمېسیون د ښځو د ملاتړ برخې کمېشنرې شبنم صالحي په دې ناسته کې وویل، چې په روان ۱۳۹۸ لمریز کال کې تر اوسه د دغه کمېسیون په اطلاعاتي بانک کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۲۷٦۲ پېښې ثبت شوې دي.

هغې زیاته کړې، د تاوتریخوالي د یادو پېښو څه باندې ۹۷ سلنه په کور د ننه او پاتې نور یې پر سړکونو، کارځایونو، ښوونځیو، پوهنتونونو، روغتونونو، توقیف خونو او زندانونو کې تر سره شوي دي.

هغې ویلي، د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون موندنې ښیي چې د روان کال په تېرو اوو میاشتو کې د ښځو پر وړاندې فزیکي، جنسي، اقتصادي، ژبني، رواني او نور تاوتریخوالي شوي او د تېر کال په پرتله یوازې په جنسي تاوتریخوالو کې کموالی راغلی دی.

صالحي زیاته کړې، د ۱۳۹۸ لمریز کال




په اوو میاشتو کې د ښځو پر وړاندې د جنسي تاوتریخوالي۱۲۳پېښې ثبت شوې، خو تېر کال په همدې موده کې دغه ډول ۱۲۸ پېښې ثبت شوې وې.

د کمېسیون د معلوماتو له مخې، سږ کال د ژبني او رواني تاوتریخوالي ۱۰۴۱، د فزیکي تاوتریخوالي ۸٦۱، د اقتصادي تاوتریخوالي ۴۸۵، د جنسي تاوتریخوالي ۱۲۳ او ۲۲۵ د تاوتریخوالي نورې بېلابېلې پېښې ثبت شوې دي.

سرچینې زیاته کړې چې په یادو فزیکي تاوتریخوالیو کې، ۳۰ وژنې، ۷۱ ټپي کېدل، ۷ سوځېدل، اته جبري کارونه او یوه د بدن د غړو پرې کېدو پېښه شامله ده.

د کمېسیون د معلوماتو له مخې، تېر کال د ژبني او رواني تاوتریخوالي ۹۰۰، د فزیکي تاوتریخوالي ۸۲۰، د اقتصادي تاوتریخوالي ۳۷۷، د جنسي تاوتریخوالي ۱۲۸ او ۳۱۱ د تاوتریخوالي نورې بېلابېلې پېښې ثبت شوې دي.

# د اوبو ناعادلانه وېش يوه نړيواله ستونزه ده، د حل لپاره يې بايد څه وکړو؟

حکمت جلیل

د اوبو کمښت او ککړتيا يوازې په پرمختللو هيوادونو کې ستونزه نه ده، د دې درک هم اسانه دی چې د اوبو کمښت او خراب کيفيت څومره اقتصاد زيانمنوي، له بلې خوا د هغو ميندو او ماشومانو انځورونه خورا خواشينوونکي وي، چې په افريقا او هند کې په اوبو پسې اوږده مزلونه وهي. د فلنټ، ميچگن د ښاروالۍ د اوبو رسونې سيستم ککړ شوی چې ښکاره مثال يې نيوجرسي او نيويارک ښارونه دي.
د اوبو ستونزه يوازې په پرمختللې نړۍ کې نه ده، دا په هر ځای کې د هر چا او اوسني وخت جدي ستونزه ده؛ ځکه اوبه د هر چا اړتيا ده او زموږ د ټولو ژوند ورسره تړلی دی. څرنگه چې په نړۍ کې د اوبو پر سر سيالۍ ورځ تر بلې ډېرېږي، د نفوسو ډېرښت، اقليمي بدلون او سياسي بې ثباتي دا ستونزه نوره هم پېچلې کوي او نه پرېږدي چې د نړۍ وگړي له اوبو برابره گټه واخلي. څه به پېښ شي که ټولنې د اوبو پر بنيادي سيستمونو پانگونه وکړي؟ نوې ټکنالوژي وازمايي؟ د اوبو پاليسي نوې کړي او د اوبو پر مديريت او څار کار وکړي ؟
تېر يا ماضي نور د راتلونکي لپاره لارښود نه شي کيدای. مونږ هغې ورځې ته نور هم نږدې يوو چې د ښاروالۍ د اوبو رسونې سيستم روانې اوبه خلاصي شي، لکه د فلنټ غميزه. دا هر څه لرې نه دي؛ بلکې دا هر څه پر ورځنۍ چارې بدل شوي دي چې عام وگړي ورسره لاس او گرېوان دي.
موږ د اوبو نشتون په جنوبي افريقا، هند، استراليا او نورو ځايونو کې گورو. ان د امريکا په مختلفو ښارونو کې د اوبو په نلونو کې د سرپو ککړتيا موندل شوې ده. په ټوله مانا د اوبو نشتون د هغه پلان نتيجه ده، چې راتلونکی پکې په نظر کې نه و نيول شوی او ماضي نور د راتلونکي لپاره لارښود نه شي کيدای. اوبو ته زياتې اړتيا د اوبو رسولو چارې ځنډنۍ کړې دي؛ ځکه موږ زياتره وخت د اوبو استعمال او قيمت په نظر کې نيسو، اقليمي بدلون او نور عوامل مو شا ته پرېښي. همدارنگه د نلونو په اوبو کې ککړتيا ځکه زياته ده، چې دا نلونه پر ټاکلي وخت نه پاکيږي او نه نوي کيږي.
څېړنې ښيي چې په امريکا کې نږدې دوه وويشت ميليونه خلک د نلونو ککړې اوبه کاروي. د اوبو د ستونزې تر ټولو خواشينوونکی حالت دا دی، چې ډېری خلک دا توان نه لري، چې پاکې اوبه تر لاسه کړي، خو دوی مجبور دي چې د خپل عايد ډېره برخه پر اوبو مصرف کړي. د يو خبر له مخې، په ځينو پرمختللو هيوادونو کې ډېری خلک د خپل عايد زياته سلنه پر اوبو مصرفوي. بل خوا يو څه هيوادونه لکه ماداگسکار چې خلک يې زياتره د ټانکرونو پر اوبو اتکا کوي، د خپلې يوې ورځې عايد ۴۵ سلنه پر اوبو مصرفوي. په موزمبق کې زياتره کورنۍ په ناقانونه توگه د حکومت تر ټاکلې اندازې ۱۰۰ سلنه زياتې اوبه مصرفوي.
بالاخره، موږ بايد پر دې پوه شو چې د اوبو برابرولو او اړتيا تر منځ واټن څومره دی؟ په اصل کې واټن بيخې نشته. شتمن خلک به اوبو ته لاسرسی لري او ټيټه طبقه به د لږو اوبو لپاره د خپل عايد زياته برخه مصرفوي. د فلنټ له اوسېدونکو نيولې چې د بوتلونو پر اوبو اتکا کوي، تر جنوبي افريقا چې خلک د اوبو تر لاسه کولو لپاره په قطارونو کې ولاړ وي، دا ډول نابرابري په هر ځای کې شته.

**دا نا انډوله وېش اوس په گډه کار کول غواړي**

دا ربړوونکې سناريو يو ښکاره پوښتنه تشريح کوي چې څه بايد وکړو او مونږ پوهيږو چې اوسني خبرونه به د اوبو ستونزو، قحطۍ، خراب کيفيت او لاسرسي ته دوا نه شي او ټولو وگړو ته د اوبو يو شان برابرول ناشوني دي. دا ضروري ده چې د ايکو سيستم کارپوهان په يو ټول منلي پلان کې شامل شي. همدارنگه، دولتي سکټور، خصوصي سکټور، خيريه موسسات، د نظر خاوندان، پانگوال او مدني ټولنې بايد د اوبو د کمښت او کيفيت پر ستونزو سره يوځای کار وکړي. ځکه له يادو خلکو هر يو جلا جلا نظر او پلان لري، مگر حکومتي پلان به يو څه ځنډنی، خو پراخ وي. مونږ بايد سمدلاسه د اوبو په اړه خپل فکر بدل کړو، ځکه موږ تل د وچکالۍ په اړه چې د نړۍ په هر گوټ کې ليدل کيږي، خبرې کوو؛ خو يو څه چې زيات وگړي ورسره لاس او گريوان دي، هغه په صنعت کې د زياتو اوبو استعمال او د اقليمي بدلون تاثيرات دي. دولتونه بايد د اوبو په اړه معلومات عام کړي، دا چاره د ځيرک تليفون له لارې هم شونې ده چې خلک د اوبو د کيفيت او عمل لپاره لاس پکار شي. د معلوماتو عامول او د مدنې ټولنو شاملول کولای شي چې د اوبو په استعمال او پاليسيو کې تغير راولي.

# د لومړنيو پايلو د اعلان ځنډېدل؛

## وکيلان: کمېسيون دا وړتيا نه لري چې د ولسمشريزو ټاکنو پايلې اعلان کړي



سره له دې چې څو ورځې وروسته به د ولسمشريزو ټاکنو د تر سره کېدو دوې مياشتې پوره شي، خو د ټاکنو کمېسيون لا هم پر دې نه دی توانېدلی چې د رايو شمېر معلوم کړي او لومړنۍ پايلې اعلان کړي.
بلخوا په هېواد کې د سياسي ډلو او پارلمان غړ هم اوچت شوی دی او پر کمېسيون له دې امله نيوکه کوي چې گواکې د لومړنيو پايلو پر اعلان نه دی بريالی شوی. دوی وايي، د پايلو په اعلان کې ځنډ د سوداگرۍ د کموالي، اقتصادي ستونزو او ناامنۍ ستر لامل دی او د ټاکنو کمېسيون ته پکار ده چې ژر تر ژره لومړنۍ پايلې اعلان کړي.
ټاکل شوې وه چې په ورمه تله مياشت کې لومړنۍ پايلې اعلان شي، خو بيا يې نېټه تېرې لړم مياشتې ته وځنډول شوه، نو اوس درېيم ځل دی چې د لومړنيو پايلو د اعلان نېټه د کمېسيون له لوري نقض کېږي او لومړنۍ پايلې نه اعلانېږي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، د دوی د کارونو په لاره کې خنډونه موجود دي چې بايد لرې کړل شي.
د دوی په خبره، د رايو بياشمېرنه روانه ده، خو په اوو ولايتونو کې د معترضو نوماندانو د پلويانو له لوري د دوی دفترونه تړل شوي او د بياشمېرنې اجازه نه ورکول کېږي.
د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشره حوا علم نورستانۍ وايي، دوی تر هغه لومړنۍ پايلې نه شي اعلانولی چې په ۳۴ ولايتونو کې يې د رايو بياشمېرنه بشپړه کړې نه وي. د نوموړې په خبره، دوی بايد په ټولو ۳۴ ولايتونو کې د ځينو مرکزونو رايې بيا وشمېري، هغه سيستم ته دننه کړي او بيا وروسته لومړنۍ پايلې اعلان کړي.
بلخوا د ولسي جرگې غړو بيا د تېرې ورځې د غونډې په امتيازي ساعت کې د خبرو پر مهال وويل، چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون په خپلو چارو کې پاتې راغلی دی او د لومړنيو پايلو د اعلان وړتيا نه لري. دوی وايي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ټاکنو پر ځای انتصابات کوي او دا هغه کار دی چې هېچا ته د منلو وړ نه دی. وکيلانو پر کمېسيون غږ وکړ چې ژر تر ژره دې پايلې اعلان کړي او په دې توگه دې په هېواد کې اقتصادي او امنيتي ستونزې نه ډېروي.
په ولسي جرگه کې د فراه د خلکو استازې بلقيس روشن بيا کمېسيون پر بې کفايتۍ تورن کړ او په خبره يې، دغه کمېسيون د دې وړ نه دی چې د ولسمشريزو ټاکنو پايلې اعلان کړی شي. بلقيس روشن وايي: ((دلته د يوه بل جانکيري په تمه دي. جانکيري خو اوس نشته شايد پامپيو ورته راشي. دا کمېسيون نه د پايلو د اعلان اراده لري نه يې وړتيا لري. کمېسيون د خلکو حقوقو ته درناوی نه لري او که داسې نه ده، نو ژر تر ژره دې لومړنۍ پايلې اعلان کړي)).
د ولسي جرگې لومړي مرستيال امیرخان يار چې د پرونۍ غونډې مشري يې هم کوله وويل، د پايلو په اعلان کې بيا بيا ځنډ په هېواد کې اقتصادي، سوداگريزې او سياسي ستونزې ډېروي، نو د دې اړتيا ده چې ژر تر ژره لومړنۍ پايلې اعلان کړل شي. نوموړي پر نوماندانو هم غږ وکړ چې له کمېسيون سره همکاري وکړي او لومړنۍ پايلې قبولې کړي. اميرخان وويل: ((د انتخاباتو خپلواک کمېسيون دې ژر د ټاکنو پايلې اعلان کړي، هر څوک چې دوی بريالی اعلان کړي، بايد ټول سياستوال يې ومني)).
ځينو نورو وکيلانو بيا پر شفافيت ټينگار کاوه او ويل يې چې ځنډ مهم نه دی، خو پايلې بايد په پوره شفافيت اعلان کړل شي او له درغلۍ دې ډډه وشي.
له دې سره همهاله د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي چې دوی په اوو ولايتونو کې د رايو د بياشمېرنې له ستونزې سره مخ دي او همدا چې دغه ستونزه هواره شي، نو دوی به لومړنۍ پايلې اعلان کړي. د کمېسيون وياند ذبيح الله سادات له رسنيو سره په خبرو کې ويلي، چې دوی له ټاکنيزو ډلو سره هم په دې اړه خبرې کړې دي او که مشکل حل نه شي، نو له حکومت او امنيتي ادارو به په دې برخه کې مرسته وغواړي.
د ټاکنو خپلواک کمېسيون مشرې حوا علم نورستانۍ بيا ويلي چې د کمېسيون کارکوونکو ته د رايو د بياشمېرنې اجازه ور نه کړل شي، نو دوی به پر نوو لارو چارو غور وکړي، خو دغه لارې چارې يې نه دي په ډاگه کړې.
د ولسمشريزو ټاکنو د نوماند عبدالله عبدالله پلويانو د هېواد په اوو ولايتونو کې د رايو د بياشمېرنې مخه نيولې ده او په خبره يې، دوی تر هغه د رايو بياشمېرنې ته اجازه نه ورکوي، څو چې د ټولو رايو شمېر معلوم نه شي او بې بايومټريکه رايې باطلې نه شي.

# د بښنې نړيوال سازمان: د ايران په وروستيو لاريونونو کې ۱۱۵ کسان وژل شوي دي



د بښنې نړيوال سازمان يا ايمنيسټي انټرنېشنل ويلي چې د ايران په وروستيو لاريونونو کې د تاوتريخوالي له کبله ۱۱۵ کسان وژل شوي دي.
دغه سازمان په خپره کړې اعلاميه کې ويلي چې د وژل شويو کسانو واقعي شمېرې تر دې هم ډېرې لوړې دي.
په ورته وخت کې د ايران قضايه قوې تاييد کړې چې په هغه هېواد کې د تېلو د لوړ نرخ پر ضد، د وروستيو لاريونونو ۱۰۰ تنظيمونکي يې نيولي دي.
دا په داسې حال کې ده چې د ايران رژيم په لومړيو کې اعتراض کوونکو ته خبرداری ورکړی و چې که پاروونکي اقدامات وکړي، د امنيتي ځواکونو له سخت ځواب سره به مخ شي .
له ۲۰۱۷ ز کال راهيسې په ايران کې د اقتصادي فشار او د نرخونو د لوړوالي پر ضد وخت نا وخت لاريونونه کېږي، چې روان لاريونونه يې تر ډېره له تاوتريخوالي ډک وو.
دغه راز رپوټونه وايي چې دا ځل د ايران رژيم د پخوا په پرتله د زيات سخت چلند خبرداری ورکړی او ډېرو کسانو ته پر مرگ ژوبلې سربېره يې زرگونه لاريونوال نيولي هم دي.
د ځينو غربي رسنيو د رپوټونو په حواله، د ايران رژيم دا ځل اعتراض کوونکو ته خبرداری ورکړی چې د دغو لاريونونو ځينې تنظيموونکي به اعدام کړي.
خو په ايران کې د روان کړکېچ او مرگ ژوبلې په تړاو د بښنې نړيوال سازمان له تازه شمېرو سره سره، د دغه هېواد رژيم په عمومي ډول په روانو لاريونونو کې د تلفاتو شمېر کم خپروي.
په تازه اقدام کې د ايران رژيم په دغه هېواد کې پر انټرنېټ بنديز لگولی چې د وضعيت په اړه يې د خپلواکو معلوماتو خپرول تقريباً ناممکن کړي دي.
د ملگرو ملتونو د بشري حقونو کمېسيون او له ايرانه بهر د بشري حقونو د ملاتړ اداري اټکل کوي چې ډېر لاريون کوونکي وژل شوي، ټپي شوي او د پوليسو له خوا نيول شوي دي.
د يادونې ده چې د ايران حکومت د نومبر په ۱۵مه پر تېلو د محدوديت او د قيمتونو د لوړېدو اعلان وکړ چې ورسره سم په بازار کې د تېلو بيې ان تر ۵۰ سلنې لوړې شوې. د حکومت دغه اقدام د ايران په ډېرو ښارونو کې د خلکو لاريونونو ته لار هواره کړې چې لاهم دوام لري.
په ورته وخت کې د ايران تر ټولو لوی مذهبي مشر ايت‌الله علي خامنه‌يي هم د حکومت وروستی اقدام ستايلی او په دغه هېواد کې روان اعتراضونه يې ناقانونه بللي دي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

درېیمه برخه

افغانستان

## اتم څپرکی
## په لوی ننگرهار کې نوي او پخواني اسلام پال




**د ارزښت وړ ملا**

مولوي یونس خالص د افغانستان د معاصر اسلام پال غورځنگ له بنسټګرو څخه یو دی. په دې لار کې د هغه هڅې د پښتنو د راتلونکو نسلونو له مدرسو فارغ شوو اسلام پالو مشـرانو لپاره د یوه ارزښت لرونکي موډل حیثیت لاره. د هغه د لارې په پاللو سره یې پلویانو نه یوازې پراخ ملاتړ خپل کړ بلکې د جهاد سپېڅلتیا یې هم پالله. د نورو افغان دیني عالمانو په څېر مولوي خالص هم د ژوند له کړاوونو تېر شوی و. د نوې څوانۍ پر مهال یې پلار وفات شوی و.

په ننگرهار کې د بېوزلیو له کبله هغه له خپلو دوو نورو وروڼو سره په پېښور او سوات کې وړیا دیني زده کړې کولې. نوموړی په اکوړه خټک سیمه کې له حقانیه مدرسې فارغ شوی و، د دې مدرسې مشـر مولانا عبدالحق خالص نوموړی د خپل لیاقت له کبله ډېر خوښاوه. کله چې خالص واک ته ورسېد، د حقانیه مدرسې د زده کړو لپاره یې په پاکستان کې پر مولانا عبدالحق هم مثبت اغېز وکړ، نور یې هم په سیاسي ډگر کې پلویان ډېر شول. د هغه مدرسه د محافظه کار دېوبندي غورځنگ روزنځای و چې پښتنو علماوو به د اسلام د پلي کېدو الهام له همدې ځایه اخیست.

مولوي خالص په ۱۹۵۰ز کال د ننگرهار په یوه ځایي مسجد کې د امام په توگه کار پیل کړ. هغه ډېر ژر د ښوونځي د ښوونکي په توگه دنده واخیسته او کابل ته لاړ. په ۱۹۶۰ز لسیزه کې هغه د حکومت د منځنۍ کچې د مامور په توگه د دندې د ترسره کولو تر څنگ د ننگرهار په یوه مدرسه کې تدریس هم کاوه. کابل کې هغه د اسلام پال غورځنگ له لومړنیو راپورته کېدونکو بنسټګرو و. نوموړی د (اسلام او ټولنیز عدالت) تر څنگ د اخوان المسلمین د نفوذ لرونکي تیوریسټ، سید قطب فعالیتونه وژباړل.

د ۱۹۷۳ز کال د جمهوري نظام د غوښتونکو له کودتا سره کمونېستانو د اسلام پالو پر بیه ډېر ځواک واخیست. ځینې اسلام پال ځنگ ته شول، ځینې نور یې پاکستان ته لاړل. خالص وروسته له هغه چې نږدې ملگری منهاج الدین گهیځ یې ووژل شو او مشـر زوی یې د کمونېستانو له لوري زنداني شو، خیبر قبایلي ولسوالۍ ته لاړ. په پاکستان کې خالص په دې هڅه کې و چې له مېشتو اسلام پالو مشـرانو سره مخالفت ونه کړي، له هرڅه یې ځان گوښه کړی و، په لنډې ښاخ کې یې یو وړوکی دوکان پرانیستی و. د ۱۹۷۶ او ۱۹۷۷ز کلونو تر منځ د برهان الدین رباني او گلبدین حکمتیار د جگړې پر مهال یې هېڅ رول نه لاره چې په پایله کې جمعیت او اسلامي حزب گوندونه له یو بل څخه بېل راڅرگند شول. کله چې دا دواړې ډلې د مولوي محمدنبي محمدي په مشرۍ د حرکت انقلاب اسلامي تر چت لاندې راغلې، بیا هم مولوي خالص ځان له هرڅه لیرې کړی و.

په ۱۹۷۹ز کال مولوي خالص خپل (اسلامي حزب) پرانیست، د حکمتیار له اسلامي حزب سره په دومره توپیر چې د دې گوند د نوم په پای کې د (خالص) وروستاړی ورسره ډېر شوی و. که څه هم د دې گوند نوم د مصر له اخوان المسلمین سره تړاو لاره، خو په پیل کې دا گوند تر ډېره پر محافظه کارو دیني عالمانو تکیه کوله. د مولوي خالص او حکمتیار د گوندونو له راڅرگندېدو سره، د پخوانیو محافظه کارو علماوو او د اوسنیو اسلام پالو چې اسلام ته یې د سیاسي سېستم په سترگه کتل، لوی توپیر و. پخوانیو علماوو پر نوو هغوی نیوکه کوله چې گني هغوی کافي اسلامي معلومات نه لري، مولوي خالص خو ان هغوی ته مکتبیان ویل.

پر افغانستان د شوروي له یرغل وروسته د مولوي خالص اسلامي حزب لا ځواکمن شو. خالص په بریالیتوب سره د معاصرو سازمانونو له مېتودونو کار اخیستل پیل کړل، ترڅو یې گوند په فرهنگي ټولنه کې نفوذ پیداکړي. خالص د ننگرهار د خوږیاڼو و، هغه په سیمه ییزه کچه د نورو قومونو دیني علماوو د ځایي جگړې لپاره جلب او جذب کړی و. د خالص اسلامي حزب له خپلو قوندانانو، عبدالحق او جلال الدین حقاني سره په گډه د افغانستان د ختیځ او سویل ختیځو سیمو د خلکو په راپورته کولو کې اړین رول لاره. هغه د خپل پلرني ټاټوبي، خوږیاڼو ولسوالۍ په توره بوړه کې ځان ته نظامي اډه جوړه کړه. پر دې اډه به په پرلپسې توگه هوایي بریدونه کېدل. د جگړې پر مهال تر ټولو لومړی روسي پیلوټ همدې اډې ته نږدې ونیول شو او وروسته په اسلاماباد کې د روسیې سفارت ته تسلیم شو. د پښتنو په سیمو کې خالص د خانانو د زوال او د مولویانو د راپورته کېدو څېره انځوروله. د ارسلا له اشرافي کورنۍ سره د هغه اړیکو، د غلجو د جبارخېلو قوم ته هم لاسرسی پیدا کړی و. دا قوم په ختیځ افغانستان کې له درانیو پاچاهانو سره د کلک ملاتړي په توگه پېژندل کېده. هغه د ارسلا د درېیو وروڼو، عبدالقدیر، دین محمد او عبدالحق استاد هم پاتې شوی و. نوموړی د مجاهدینو له مشـرانو یوازینی څوک و چې تر پېښور یې د تورې بوړې مورچل کې د جگړې ژوند خوښاوه. د هغه دوه قوموندانان، عبدالحق او جلال الدین له نورو څخه په یوه لسیزه جگړه کې تر ټولو بریالي وو.

**دوام لري...**

# طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسه

حمیدالله حمیدي




طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې په خوست ولایت کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ پر فعالیت پیل وکړ. د دغې موسسې موسس او مشر حکیم الله سهیلي وایي، له پیله تر اوسه پورې یوازې دوه پوهنځي(اقتصاد او حقوق او سیاسي علوم) لري. نوموړی وایي، په اقتصاد پوهنځي کې یې د (اداره او منجمنټ، او مالي او حسابي) ډیپارټمنټونه او حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې بیا د (اداره او ډیپلوماسۍ او قضا او څارنوالۍ) ډیپارټمنټونه لري.

د لوړو زده کړو یاده موسسه ۵۵۰ محصلین لري، چې له دې ډلې ۱۵ سلنه یې ښځینه محصلینې دي. ښاغلی سهیلي وایي، په درېیو دورو کې یې ۲۵٦ محصلین د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادارو کې پر کار بوخت دي. دی وایي، هڅه یې کړې ده چې پر کار پوه او متخصص کسان وروزي، څو وکولی شي د کار په مارکېټ کې گټور واقع شي، چې تر ډېره په دې چاره کې بریالي هم دي. ځکه دوی خپلو محصلینو ته د تجربه لرونکو استادانو پر مټ په نظري او عملي ډول زده کړې ورکوي.

په طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۳۸ تجربه لرونکو استادانو له خوا مخ ته وړل کېږي، چې اویا سلنه یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د دې موسسې د رییس په خبره، اویا سلنه دایمي او دېرش سلنه قرارادي استادان لري، چې په رسمي وخت کې د خوست په دولتي پوهنتون کې پر تدریس بوخت وي او له هغه وروسته راځي په طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې مخ ته وړي. دا چې د لوړو زده کړو وزارت د قانون اړوند له دې وروسته باید د پوهنتون استاد لږ تر لږه د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې ولري، نو ښاغلی سهیلي هم وایي، هڅه کوي څو هغو استادانو ته هم په کور د ننه یا بهر کې د ماسټرۍ کولو زمینه برابره کړي، چې د لېسانس تر کچې پورې یې لوړې زده کړې کړې دي.

د طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسې رییس وایي، په خوست ولایت کې د سیمه ییز کلتور او عنعناتو له مخې په لومړي سر کې له طبي پوهنځیو پرته ښځینه محصلینو زړه نه ښه کاوه چې په نورو برخو کې لوړې زده کړې وکړي؛ خو په ۱۳۹٦ لمریز کال کې طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسې په اقتصاد او حقوقو پوهنځي کې په وړیا ډول د ښځینه محصلینو لپاره د زده کړو زمینه برابره کړه، هماغه وو چې اوس دوی په خپلو پوهنځیو کې ډېرې ښځینه محصلینې لري چې شمېر یې ورځ تر بلې زیاتېږي.

ښاغلی سهیلي وایي، موسسه یې د خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې د غړیتوب تر څنگ، په کور د ننه او بهر کې له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې او هوکړې لري. دی وایي، په هند کې د اپل پي یو له پوهنتون سره هوکړه لري، چې له مخې یې د دوی محصلین کولی شي په ډېرې اسانۍ او ځانگړي تخفیف سره په دغه پوهنتون کې د ماسټرۍ او دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې وکړي او خپلې وړتیاوې لوړې کړي. دغه راز په کور د ننه له دولتي او غیر دولتي پوهنتونونو سره ښې اړیکې او له ځینو سره یې هوکړې هم لري. دی وایي، هڅه یې دا ده چې له هېواده بهر له ځینو نورو پوهنتونونو سره هم اړیکې جوړې کړي، هوکړې ور سره لاسلیک کړي، څو خپل استادان او محصلین ورته د وړتیا لوړولو لپاره ور ولېږي.

دغه موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره مجهز کتابتون لري، چې استادان ترې د خپل تدریس او څېړنې او محصلین ترې د خپلې مطالعې لپاره گټه اخلي. حکیم الله سهیلي وایي، په کتابتون کې لږ تر لږه دری زره ټوکه بېلابېل کتابونه لري. دی وایي، د فزیکي کتابتون تر څنگ، ډیجیټالي کتابتون هم لري، چې محصلین او استادان یې کولی شي په انلاین ډول هم له یاد کتابتون څخه گټه واخلي. سهیلي وایي، هڅې یې پیل کړې دي چې کتابتون لا غني کړي، څو د پوهنځیو اړوند او نور علمي کتابونه ورته راوړي.

د یادې موسسې اداره وایي، د نظري زده کړو تر څنگ یې د خپلو محصلینو لپاره د عملي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده. د دې موسسې رییس وایي، وخت ناوخت د پوهنتون په د ننه کې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي محصلینو ته تمثیلي محکمې جوړوي، د خوست استناف څارنوالۍ، استناف محکمې او امنیه قوماندانۍ د جنایي جرمونو پر ضد د مبارزې اړوند چارواکي را غواړي، څو خپلې تجربې له محصلینو سره شریکې کړي. دغه راز ملي بانک، مرکزي بانک او په خوست کې اړوند نورو ادارو ته د هوکړو له مخې د اقتصاد پوهنځي محصلین ور استوي، څو هلته په عملي ډول کار وکړي او تجربې یې لوړې شي.

د لوړو زده کړو دغه موسسه، د محصلینو د بېلابېلو کټه‌گوریو لپاره مناسب تخفیف لري. ښاغلی سهیلي وایي، په ۱۳۹٦ لمریز کال کې یې د ښځینه محصلینو لپاره سل سلنه تخفیف او په ۱۳۹۷ لمریز کال کې یې د لوړو زده کړو وزارت له مقررې سره د امنیتي ځواکونو او شهیدانو د ورثه‌وو لپاره هم ځانگړی تخفیف په پام کې نیولی و، چې له مخې یې اوس د دغو کورنیو زیات شمېر محصلین په طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسه کې پر زده کړو بوخت دي. دی وایي، د دې تر څنگ، له ځینو نورو دولتي ادارو په ځانگړې ډول د ځوانانو له معینیت سره د هوکړې له مخې یو زیات شمېر محصلین له دوی سره لوړې زده کړې کوي.

د دې موسسې اداره وایي، طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسه په خوست کې یوازینۍ هغه ده چې د لومړي ځل لپاره یې خپلو فارغ شویو محصلینو ته د تصدیق پاڼې پر ځای، هغه ډیپلومونه ورکړل چې د لوړو زده کړو وزارت له خوا ورکړل شوي وو. دوی وایي، له دې وروسته به هم خپلو فارغ شویو محصلینو ته هغه اسنادونه ورکوي، چې لوړو زده کړو وزارت تایید کړي وي، څو محصلین بې ځای سرگردانه نه شي او پر وخت له خپلو تحصیلي اسنادونو گټه واخلي. په یاده موسسه کې د ورځې دوه وخته تدریس کېږي.

ښاغلی حکیم الله سهیلي وایي، که څه هم چې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ کوم توپیر نه لیدل کېږي، خو دی وایي چې تر ډېره دغه توپیر خپله د لوړو زده کړو وزارت رامنځ ته کړی دی. نوموړی وایي، لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو استادان د علمي درجو په پروگرام کې نه شاملوي او هغه برسونه چې د لا لوړو زده کړو او یا ظرفیت لوړونې په برخه کې له بهره استادانو او محصلینو ته راځي، یوازې د دولتي پوهنتونونو استادان او محصلین پکې گډون کوي، چې په خبره یې دا خپله د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ توپیر پیدا کول دي. دی له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې دولتي او خصوصي پوهنتونونو ته په یوه سترگه وگوري او متوازن پرمختگ ته یې زمینه برابره کړي.

د دې موسسې اداره غواړي چې ډېر ژر د حقوقو پوهنځي لپاره یو حقوقي کلینیک جوړ کړي، څو محصلین وکولی شي په عملي ډول هم زده کړې وکړي او هم خپلې تجربې زیاتې کړي. تر څنگ یې غواړي چې نوي پوهنځي ولري، د حقوقو او اقتصاد په پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروگرامونه پیل کړي، البته که وزارت ورته دویم ځلي اجازه ورکړي. ځکه لوړو زده کړو وزارت تر اوسه پورې په خصوصي پوهنتونونو کې د هر ډول نویو فعالیتونو تر سره کول تر دویم ځلي امر پورې ځنډولي دي.

د طلوع افتاب د لوړو زده کړو موسسې رییس له لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې له افغان حکومت څخه غواړي، چې لومړی خو باید خصوصي پوهنتونونو ته په اړوند ولایتونو کې ځمکې ورکړل شي، څو پکې پانگونه وکړي او د خپلو ودانیو او نورو ملحقاتو څښتن شي او تر څنگ یې دا چې خصوصي پوهنتونونه په ډېره لوړه کچه مالیه ورکوي، مالیه یې یو څه کمه او د تحویلۍ چارې یې ورته اسانه شي، څو خصوصي پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۷۵ |
| € | ۸۶,۵۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۵ |
| £ | ۱۰۰,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# عوارض دود سگرت برای اطرافیان و افراد غیرسگرتی چیست؟

ترجمه: احمد فردوسی

حتماً با مضرات سگرت آشنایید. بهتر است بدانید که قرارگرفتن در معرض دود دست‌دوم سگرت (وقتی دود سگرت شخص دیگری را استشمام می‌کنید)، حتی اگر سگرتی نباشید، نیز برای‌تان مضر است. وقتی کسی سگرت می‌کشد، تمام دود سگرت وارد ریه نمی‌شود و بخشی از آن وارد هوایی می‌شود که دیگران در آن نفس می‌کشند. اما می‌دانید این دود سگرت چه عوارضی دارد؟ با ما همراه باشید تا با این عوارض آشنا شوید.

**عوارض دود سگرت برای اطرافیان**

کشیدن سگرت در اماکن عمومی ممنوع است. اما افراد بسیاری، به‌ویژه فرزندان افراد سگرتی، همواره در معرض دود دست‌دوم سگرت (دود سگرت پدر و مادرشان) قرار دارند. افراد سگرتی حتی اگر نگران اطرافیان خود باشند، باز هم نمی‌توانند کاملاً آنها را از دود سگرت خود دور نگه دارند.

**دود دست‌دوم سگرت**

شاید این سوال برای‌تان پیش آمده باشد که «دود دست‌دوم سگرت، چه نوع دودی است؟» دود دست‌دوم سگرت، در واقع دودی است که اطرافیان فرد سگرتی آن را استنشاق می‌کنند. این دود ممکن است از سگرت معمولی، سگرت برگ یا پیپ تولید شود. دود تنباکو حاوی بیش از چهار هزار ترکیب متفاوت کیمیایی است که حداقل ۲۵۰ نوع آن بیماری‌زا هستند.
همچنین در برخی از بررسی‌ها مشخص شده است که دود دست‌دوم سگرت حاوی بیش از هفت هزار ماده کیمیایی است که صدها مورد از آنها زهری هستند و حدود ۷۰ مورد موجب ابتلای فرد به سرطان می‌شوند.
از سال ۱۹۶۴ میلادی تاکنون، ۲,۵ میلیون بزرگسال غیرسگرتی بر اثر تنفس هوای آغشته به دود دست‌دوم سگرت جان خود را از دست داده‌اند.
قرارگرفتن در معرض دود دست‌دوم سگرت، خطر ابتلا به انواع بیماری‌ها را تا ۳۰ درصد افزایش می‌دهد. این موضوع می‌تواند موجب بروز سرطان ریه و دیگر انواع سرطان شود. همچنین این دود می‌تواند فرد را به آمفیزم مبتلا کند و برای سلامت قلب نیز مضر است.
آمفیزم یا نابودی پارانشیم ریوی، اختلالی است که باعث از بین‌رفتن ویژگی ارتجاعی ریه و دیواره کیسه‌های هوایی آن می‌شود.
دود سگرت چسبندگی خون را افزایش می‌دهد و با افزایش کلسترول لیپوپروتین کم‌چگالی «LDL» یا همان کلسترول بد، به پوشش رگ‌های خونی صدمه می‌زند. این تغییرات در نهایت فرد را در معرض سکته قلبی یا سکته مغزی قرار می‌دهند.

**خطر دود سگرت برای کودکان**

کودکان به‌دلیل قرارداشتن در فرایند رشد، نرخ تنفس بالاتری نسبت به بزرگسالان دارند و به همین دلیل بیش از سایرین در معرض خطرات مرتبط با دود سگرت قرار می‌گیرند. از جمله عوارضی تهدیدکننده کودکان می‌توان به موارد زیر اشاره کرد:
سندرم مرگ ناگهانی نوزادان
عفونت‌های تنفسی (مانند برونشیت و ذات‌الریه)
حملات شدید و مکرر زهری
عفونت گوش
سرفه مزمن
مصرف سگرت در دوران بارداری برای جنین در حال‌رشد هم خطرناک است و می‌تواند احتمال زایمان زودرس، تولد جنین کم‌وزن، ناتوانی ذهنی، مشکل یادگیری، سندرم مرگ ناگهانی نوزادان و ابتلا به اختلال کم‌توجهی – بیش‌فعالی را افزایش دهد. هرچه مصرف سگرت در زنان باردار بیشتر باشد، این خطرات نیز بیشتر نوزاد را تهدید خواهند کرد.
بنا بر بررسی‌ها، مصرف سگرت در دوران بارداری باعث مرگ بیش از هزار نوزاد در سال می‌شود.

**عوارض دود دست‌دوم سگرت برای کودکان**

دود دست‌دوم سگرت، سلامت کودک را شدیداً به خطر می‌اندازد. بررسی‌ها نشان می‌دهند که فرزندان والدین سگرتی، بیشتر از سایر کودکان مریض می‌شوند. ریه‌های آنها کمتر از کودکان دیگر رشد می‌کند و بیشتر به بیماری‌های برونشیت و ذات‌الریه مبتلا می‌شوند. خس خس سینه یا سرفه در این کودکان رایج‌تر است.
دود دست‌دوم سگرت موجب حملات زهری در کودک می‌شود. همچنین شدت بیماری تنگی نفس در کودکانی که در معرض دود سگرت قرار دارند، افزایش می‌یابد و آنها را گرفتار حملات مکرر زهری می‌کند.
کودکانی که در معرض دود سگرت والدین خود قرار دارند، بیشتر به عفونت گوش مبتلا می‌شوند. همچنین در بیشتر مواقع، درون گوش آنها مایع جمع می‌شود و برای خشک کردن این مایع مجبور به مراجعه مکرر به داکتر هستند.

**راه‌هایی برای دور نگه داشتن کودکان از دود دست‌دوم سگرت**

والدین نباید اجازه بدهند کسی در خانه سگرت مصرف کند. والدین نباید اجازه بدهند کسی در خودرو، حتی با پنجره باز، سگرت مصرف کند.
والدین نباید مطمئن شوند که در مراکز نگهداری روزانه کودک و مدارس، تنباکو مصرف نمی‌شود. اگر در محیطی زندگی می‌کنید که هنوز مصرف سگرت در اماکن عمومی آن ممنوع اعلام نشده است، به رستوران‌ها یا مکان‌هایی بروید که کشیدن سگرت در آن مکان‌ها ممنوع است. یادتان باشد که وجود اتاق‌های مجزا برای مصرف سگرت هم نمی‌تواند از شما و خانواده‌تان در برابر دود دست‌دوم سگرت محافظت کند.

**دود سگرت و بیماری‌های قلبی-عروقی**

۱.قرارگرفتن در معرض دود دست‌دوم سگرت فوراً روی سیستم قلبی-عروقی افراد اثر می‌گذارد و می‌تواند موجب بیماری‌های عروق کرونری و سکته قلبی شود.
دود سگرت سالانه موجب مرگ زودرس ۳۴ هزار آمریکایی غیرسگرت ی بر اثر بیماری قلبی می‌شود. ۲۵ تا ۳۰ درصد از غیرسگرتی‌هایی که در خانه یا محل کار در معرض دود دست‌دوم سگرت قرار دارند، به بیماری های قلبی مبتلا می‌شوند.
دود دست‌دوم سگرت خطر سکت قلبی را ۲۰ تا ۳۰ درصد افزایش می‌دهد.
دود دست‌دوم سگرت، سالانه جان ۸ هزار نفر را بر اثر سکته قلبی می‌گیرد.
۲. قرارگرفتن در معرض دود دست‌دوم سگرت بلافاصله روی خون و رگ‌های خونی فرد اثر می‌گذارد و خطر حمله قلبی را افزایش می‌دهد.
استنشاق دود دست‌دوم سگرت در عملکرد نورمال قلب، خون و سیستم عروقی تداخل ایجاد می‌کند و خطر ابتلا به سکته قلبی را افزایش می‌دهد.
حتی قرارگرفتن در معرض دود سگرت به‌مدت کم هم می‌تواند به پوشش رگ‌های خونی صدمه بزند و پلاکت‌های خون فرد را چسبنده‌تر کند. این تغییرات می‌توانند موجب حملات قلبی مرگبار شوند.
افرادی که سابقه بیماری قلبی دارند، بیش از هر شخص دیگری گرفتار عوارض بد ناشی از دود دست‌دوم سگرت می‌شوند و به همین دلیل، باید برای دوری از هر نوع دود سگرت، اقدامات خاصی انجام دهند.

**خطر دود سگرت و سرطان ریه**

۱. دود دست‌دوم سگرت موجب بروز سرطان ریه در بزرگسالانی شده است که هرگز سگرت نکشیده‌اند. خطر ابتلا به سرطان ریه در غیرسگرت ی‌هایی که در خانه یا محل کار در معرض دود سگرت قرار دارند، ۲۰ تا ۳۰ درصد است.
هر سال در آمریکا بیش از ۷۳۰۰ غیرسگرتی بر اثر سرطان ریه جان خود را از دست می‌دهند. غیرسگرتی‌هایی که در معرض دود دست‌دوم سگرت قرار دارند، به‌اندازه سگرتی‌ها، مواد سرطان‌زا را استنشاق می‌کنند.
قرارگرفتن در معرض دود دست‌دوم سگرت، حتی به‌مقدار کم، چنان به سلول‌های بدن صدمه می‌زند که فرایند ابتلا به سرطان را فعال می‌کند.
هرچه مدت قرارگیری در معرض دود دست‌دوم سگرت بیشتر باشد، خطر ابتلا به سرطان ریه در غیرسگرتی‌ها افزایش پیدا می‌کند.

**دود سگرت و سندرم مرگ ناگهانی نوزادان**

سندرم مرگ ناگهانی نوزادان، همان‌طور که از اسمش پیداست، بسیار ناگهانی، بدون‌توضیح و غیرمنتظره رخ می‌دهد و جان نوزاد را در سال اول زندگی می‌گیرد.
سندرم مرگ ناگهانی نوزادان یکی از اصلی‌ترین دلایل مرگ نوزاد، به خصوص نوزاد سالم است. دود دست‌دوم سگرت این خطر را افزایش می‌دهد.
مصرف سگرت در دوران بارداری، خطر سندرم مرگ ناگهانی نوزادان را افزایش می‌دهد.
نوزادانی که در معرض دود دست‌دوم سگرت هستند، بیشتر در خطر ابتلا به سندرم مرگ ناگهانی قرار دارند. مواد کیمیایی موجود در دود دست‌دوم سگرت، به‌گونه‌ای روی مغز نوزادان اثر می‌گذارد که وضعیت تنفس آنها را دچار اختلال می‌کند. در ریه نوزادانی که بر اثر سندرم مرگ ناگهانی نوزادان فوت کرده بودند، بیش از نوزادانی که به‌دلایل دیگر جان خود را از دست داده بودند، نیکوتین و کوتینین دیده می‌شد. کوتینین یکی از مواد شیمیایی است که در دود دست‌دوم سگرت وجود دارد.
والدین با سه روش زیر می‌توانند از سندرم مرگ ناگهانی نوزادان پیشگیری کنند:
در زمان بارداری از مصرف سگرتی خودداری کنید
در خانه یا اطراف نوزاد سگرت نکشید
نوزادان را به پشت بخوابانید.

**کلام آخر**

برای پیشگیری از استنشاق دود دست‌دوم سگرت، تا جایی که می‌توانید از افراد سگرتی دور بمانید و درعین‌حال سگرتی‌ها را به ترک سگرت تشویق کنید.
اگر کسی قصد سگرت کشیدن داشت، از او بخواهید از محیطی که در آن هستید، دور شود تا صدمات کار اشتباه او گریبان شما را نگیرد.

## سیگار: د افغان ځواکونو په لیکو کې د داخلي بریدونو کچه دوه برابره لوړه شوې ده

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا ځانگړي سرمفتش یا سیگار په یوه تازه راپور کې ویلي چې په دریو میاشتو کې د افغان ځواکونو په لیکو کې ۳۰ داخلي بریدونه شوي، خو د افغانستان امنیتي ادارې د دغه ډول بریدونو د کموالي خبره کوي.
د ملي دفاع وزارت چارواکو ویلي، په تېرو کلونو کې د ملي اردو په لیکو کې د داخلي بریدونو په اړه اندېښنې زیاتې وې، خو اوس د دغو بریدونو کچه ټیټه شوې ده.
د دغه وزارت د ویاند مرستیال فواد امان ازادي راډیو ته ویلي، د داخلي بریدونو د مخنیوي لپاره یو لړ طرزالعملونه رامنځ ته شوي چې په پلي کېدو سره به یې شته اندېښنې نورې هم را کمې شي.
هغه زیاته کړې: «د نورو کلونو په پرتله د ملي اردو په لیکو کې د خودي حملو گراف کم شوی او موږ د دې لپاره یو لړ طرزالعملونه رامنځ ته کړي چې له مخې به یې په دې اړه شته اندېښنې هم له منځه لاړې شي».
د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا ځانگړي سرمفتش یا سیگار په یوه تازه راپور کې ویلي چې د روان ۲۰۱۹ ز کال په جون، جولای او اگست میاشتو کې د افغانستان د امنیتي ځواکونو په لیکو کې ۳۰ داخلي بریدونه شوي دي.
سیگار په دې پېښو کې دولتي سرتېرو ته د مرگ ژوبلې په اړه څه نه دي ویلي، خو د راپور په یوه برخه کې راغلي چې تر جون وړاندې دریو میاشتو ته په کتو، داخلي بریدونه دوه برابره ډېر شوي دي.
خو د کورنیو چارو وزارت د سیگار اداري دغه راپور ناسم او له حقیقته لرې بللی دی. د دغه وزارت ویاند نصرت رحیمي آزادي راډیو ته ویلي، پخوا د افغانستان د پولیسو په لیکو کې د مخالفینو نفوذي کسان وو، خو اوس دا اندېښنې لرې شوې دي.
په ورته وخت کې ځینې پوځي کارپوهان د داخلي بریدونو په اړه د سیگار ادارې له راپور سره همغږي دي. پوځي کارپوه امرالله آمان ازادي راډیو ته ویلي، لا هم د امنیتي ادارو د استخباراتو په برخه کې نیمگړتیاوې شته چې د هغه په خبره، مخالفین ترې گټه پورته کوي.
امان زیاته کړې: «سیگار په ډېر مناسب وخت کې دغه راپور خپور کړی. د افغانستان؛ امنیتي او دفاعي بنسټونه په استخباراتي برخه کې ستونزې لري، اړوندې ادارې په دې برخه کې جدي توجه نه کوي. همدا لامل دی چې دغه ستونزې راولاړېږي.»
د یادونې ده چې په افغانستان کې د دولتي ځواکونو په لیکو کې د مخالفینو او په تېره بیا د طالبانو نفوذي کسانو په وار وار پر خپلو ملگرو سرتېرو مرگوني بریدونه کړي. کله ناکله دغو نفوذي کسانو د دولتي سرتېرو په جامه کې بهرني سرتېري هم په نښه کړي دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily

New Vision, New Journey



المبارک
توريستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د ميوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



يکشنبه د ۱۳۹۸ د ليندۍ دريمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲٤مه | ٤٦۷مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۹ | ۱۵ | ۵ | ۲۰ | ۱۷ |
| -۱ | -۳ | ۳ | -۲ | ۸ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۷ | لمر ختل ۰٦:۳٤ | ماسپښين ۱۱:٤۰ | مازيگر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰٤:٤۹ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## ولسی جرگه: مسئولان متخلف در مصرف بودجه باید به څارنوالی معرفی شوند



برخی از اعضای ولسی جرگه، تأکید میکنند که مقام های آن عده واحدهای بودجوی که در مصرف بودجه سال گذشته تخطی و تخلف کرده اند، به څارنوالی معرفی شوند.

این در حالی است که بر اساس گزارش آژانس خبری پژواک، در مصرف بودجه سال گذشته، به میلیاردها افغانی تخطی، تخلف و سوء استفاده از منابع مالی صورت گرفته است.

در گزارش حساب قطعیه سال گذشته آمده است که ۱.۲۷ میلیارد افغانی بیشتر از حد تعیین شده، در اختیار نهادهای امنیتی به عنوان پول اوپراتیفی قرار داده شده، ٦.۹ میلیارد افغانی که به عنوان پول پیشکی پرداخت شده بود تصفیه نشده، ۲۱۸۸ بست در ۱۳ واحد بودجودی خلاف اصولنامه و مصوبه ولسی جرگه ایجاد شده، ۱۲۵ میلیون افغانی برای معاشات کمیسیون حل منازعات که در تشکیل دولت و سند بودجه وجود ندارد پرداخت شده، وجوه ۱۸۹ پروژه به واحد های دیگر انتقال گردیده و رئیس جمهور، ۲.۴ میلیارد افغانی اضافه از سقف تعیین شده در کود های ۹۱ و ۹۲ مصرف کرده است.

همچنان در این گزارش تذکر رفته است که بیش از ۱.۱۱ میلیارد افغانی، از بودجه انکشافی تنقیص شده است.

ولسی جرگه، محمد همایون قیومی سرپرست وزارت مالیه و محمد نعیم حقمل رئیس اداره عالی تفتیش را فرا خوانده بودند؛ تا در مورد حساب قطعیه معلومات دهند؛ اما چون سرپرست وزارت مالیه در بیرون از کشور است، این موضوع به روز دوشنبه به تاخیر افتاد.

اما در نشست دیروز ولسی جرگه، روی چگونگی مصرف بودجه سال گذشته بحث شد.

رنگینه کارگر نماینده مردم فاریاب در این جرگه گفت، باید مقاماتی که مرتکب تخطی و تخلف در مصرف بودجه شده اند، به څارنوالی معرفی شوند تا در آینده هیچ مقامی دست به چنین کاری نزند.

## نړۍ




## شمالي کوريا: د پيونگ يانگ او واشنگټن تر منځ د خبرو د احتمالي ناکامۍ مسووله به امريکا وي



د شمالي کوريا د بهرنيو چارو وزارت مرستيالې چو سون ويلي، چې د واشنگټن او پيونگ يانگ تر منځ د خبرو د احتمالي ناکامۍ مسووله به امريکا وي.

هغې دغه راز پر متحده ايالتونو تور پورې کړی چې په روانو خبرو کې هڅه کوي څو نوي خنډونه رامنځ ته کړي.

د رويټرز خبري اژانس په حواله، سون ويلي چې شمالي کوريا د خبرو د بريالي کېدو لپاره خپلې هڅې کړې، خو د نوموړې په خبره، واشنگټن تر دې دمه خپله هېڅ ژمنه هم نه ده عملي کړې.

نوموړې مسکو ته په خپل سفر کې د روسيې د بهرنيو چارو له وزير سره په خبرو کې دغه راز ټينگار کړی چې هېواد يې غواړي د کوريا ټاپووزمې روان کړکېچ د خبرو له لارې حل کړي، خو په خبره يې چې امريکا په دې تړاو دوه مخې لوبه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د شمالي کوريا د مذاکره کوونکي ټيم مشر خبرداری ورکړی و، چې که له امريکا سره روانې خبرې ناکامې شي، پيونگ يانگ به هېڅکله دغه پروسه له سره پيل نه کړي.

د يادونې ده چې واک ته د ولسمشر ټرمپ له رسېدو راهيسې د شمالي کوريا او امريکا متحده ايالتونو ولسمشرانو په کوريا ټاپووزمه کې د روان کړکېچ د پای ته رسېدو پر سر درې ځله مخامخ ناستې درلودې، چې له کومې نتيجې پرته پای ته رسېدلې دي.

## ملگري ملتونه: په يمن کې د سعودي په مشرۍ د ائتلاف بريدونه ۸۰ سلنه کم شوي دي



د يمن لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي استازي مارټين گريفيث ويلي، چې په يمن کې د سعودي په مشرۍ د عرب ائتلاف بريدونه ۸۰ سلنه کم شوي دي.

نوموړي د ملگرو ملتونو په امنيت شورا کې په همدې تړاو په جوړه شوې غونډې کې وويل، دوی هيله لري چې د يمن په جنوب کې د ملگرو ملتونو، نړيوالو او سيمه ييزو هېوادونو په همکارۍ رامنځته شوې هوکړه به د دغه هېواد کړکېچ ته د پای ټکی کېږدي.


نوموړي دغه راز زياته کړې چې د رياض د تړون پر سر په ۸٦ ورځنيو خبرو کې د يمن د جگړې ښکېلو لورو ټينگار کړی، چې د دغه هېواد اوږده جگړه يوازې د خبرو له لارې پای ته رسېدای شي.

گريفيث دغه راز سولې ته په رسېدو کې د سعودي رول مثبت بللی او ويلي يې دي چې د سعودي پاچا محمد بن سلمان هم له دې هوکړې ملاتړ کړی دی.

هغه زياته کړې چې تېره اونۍ په يمن کې د سعودي په مشرۍ د عربي ائتلاف بريدونه هم تر ۸۰ سلنه کم شوي دي. نوموړي پر نړيوالو خيريه بنسټونو هم غږ کړی چې په يمن کې د احتمالي اوربند په صورت کې د اړمنو او جنگ ځپلو سيمو ته د مرستو لپاره تياری ونيسي.

## ژوند

## د آلو بخارا گټې



تازه مېوه خپل ښېل خوند او رنگ لري؛ خو د جام جم ورځپاڼه چې کار کوونکو يې د وچې مېوې په اړه کومې څېړنې کړې، ليکي، وچه مېوه د هډوکو د سلامتيا او قوت لپاره گټوره ده.


د وچې مېوې په دې ډله کې آلو بخارا هم راځي؛ آلو بخارا د هاضمې سيسټم لپاره گټوره ده او په زياته کچه مغذي مواد لري چې د هډوکو په پياوړتيا کې مهمه ونډه درلودلی شي.

اوس څېړنو ښودلې، آلو بخارا چې وچ شوي الو دي، په زياته کچه انتي اکسيدان لري. دوی په آلو بخارا کې شته انتي اکسيدان د (بلوبري) له انتي اکسيدانو سره پرتله کوي او وايي چې په دې دواړو کې په يوه اندازه شتون لري.

آلو بخارا د دې ټولو سرچينه بلل کېږي؛ د معدني موادو د شتون کچه په کې تر بلې هرې مېوې او سبزۍ زياته ده او کولی شي چې په هډوکو کې د معدني موادو حجم زيات کړي.

په آلو بخارا کې د ويټامين سي شتون د دې لامل کېږي چې له نورو خوراکي توکو څخه بدن په اسانۍ سره اوسپنه جذب کړي. هغه فيبر چې په آلو بخارا کې دي، کولی شي چې په وينه کې د کلسټرولو اندازه کنټرول کړي او د بدن د سلامتۍ لامل وگرځي.

## د پرمختگ له کبله مو د خدای پاک شکر ادا کړئ!




خپل تېر وخت ته پام وکړئ، له ډېرو داسې کارونو سره مخ شوي ياست چې تر سره کول يې ستاسې له وسه پورته خبره وه، په مخ کې مو خنډونه پيدا شول، زيانونه درته واوښتل، سختۍ درباندې تېرې شوې، د معايناتو پايلې مو ښې نه وې او دا هرڅه ستاسې لپاره ډېر سخت وو، هېڅ د خلاصون لار مو نه ليده، خو خدای پاک هرڅه درته اسانه کړل او لار يې درته پيدا کړه. خدای پاک توانايي درکړه چې له دې هرڅه سره مبارزه وکړی. کله مو چې د يوازيتوب احساس وکړ او ملگري ته مو اړتيا پيدا شوه، ښه ملگری يې درکړ.

پرمختگ مو وکړ او ښه فرصتونه يې درته برابر کړل. تاسې اوس له هغه ځايه څو گامه وړاندې ياست چې موخه مو درته ټاکلې وه. دا هرڅه په خپل سر ونه شول، بلکې د خدای په اراده او خوښه تر سره شوي دي. تاسې په ستونزو کې را گير شوي وی، ماتې مو خوړلې او ناهيلي شوي وی، خو خدای پاک تاسې له دې هرڅه په داسې يوه لار را و ايستی چې تاسې هغه نه شوای ليدلی. اوس کولای شی له ځان سره ووايی:

زه دې ځای ته په يوازې ځان نه يم رسېدلی، دا زما د زحمتونو پايله نه وه، بلکې دې ځای ته يوازې د خدای پاک په مرسته رسېدلی يم.